# ډرامه او د لشي د ډرامه ګو تنقيدي جاج

## The critical review of drama & dramas of Lashay

Dr. Nasrullah Khan Majnoon [1]
nkbmajnoon@gmail.com
Tufail Ahmad Zaryab Yousafzai [2]
zaryabyousafzaiicp@gmail.com

Issn 2304-1463

**Abstract**

The literature is universal truth in the sense of expression of humane emotions. Humane want relaxation in their lives due the continuous life process. Writers have that skill to entertain and point out the main theme of social, economic and political issues and give the solution. Literature is the way and politics is following that way which literature has shown. The writer plays his role through his literary words in different genres and style of writing, sometimes in serious way and sometime in satirical way. Drama is the oldest form of fiction and literature as well.it starts from Church and lead to the world through its own world of lives and life. The humane are the entire performer here on the stage of the globe. Everyone has his own role to play. The dramatist is the person who picturizes that scenes on the stage to show what the humane is doing. This paper will describe in details the satire and the evolution of drama and then will discuss the Lashay's(لشې) daramas written by Dr. Muhammad Azam Azam the well-known Pashto writer. He is a poet and a satire writer as well. Lashay is consist if light essays and short dramas which has the clear image of the Pashtun society.

**Key words:** Universal truth, Literature, Expression, Emotions, Genre, Satire, Fiction, Performer, Picturize, Evolution, Drama, Church,

ادب د انسان د ظاهري او باطني ژوند په تاريخي او تهذيبي لحاظ د جاج اخستو کښې زمونږ سره ډېر لاس کوي.د ادب په حقيقت کښې د لوست او پوهې دپاره تهذيبي سياق او سباق مهم دي.د يوې ژبې ادب صرف ادب نۀ وي بلکې دغه يو تهذيبي دستاوېز هم وي چې په ځان کښې

[1] Assistant Professor , Rahman Baba Chair Department of Pashto,ICP.
[2] Lecturer in Pashto,Rahman Baba Chair Department of Pashto,ICP

بلها پټې خزانې خوندي ساتي.د معاشرې او د معاشرتي طبقاتو بشپړه هینداره ادب وي.بلکې د لوون تهال د وینا تر مخه دا ادب پارې د حقیقت نه هم سیوا حقیقت وي.کۀ مونږ پښتو ادب ته ځیر شو نو زمونږ د معاشرتي او سماجي ژوند عېبونه او خاصیتونه،لاندے باندےاو نورې ډېرې شخړې او مظاهر پکښې مونږ ته په کراتونو په لاس راځي.ښۀ خبره پکښې دا ده چې د مسائلو سره پکښې د هغې د حل لارې چارې هم موجودې وي.د دغې مسائلو تعلق نېغ په نېغه د انسان د زندګۍ سره دے.د ادب او معاشرې د یو بل سره ډېر جوت تړون دے.ډاکټر محمد حسن د ادبي سماجیاتو په حواله لیکي:

"کوئی تخلیقی فن پارہ اپنی آوازِ باز گشت سے خالی نہیں ہوتا- مختلف صورتوں سے وہ عوام تک پہنچتا ہے- قبولِ عام حاصل کرتاہے اور اس کی مقبولیت کبھی کبھی اس حد تک بھی بڑھ جاتی ہے کہ وہ اپنے دور کی آواز ہی نہیں بنتابلکہ اس آواز کو تبدیل کرنے میں معاون ہوجا تا ہے-ادیبوں اور شاعروں کا ذاتی اثر یوں بھی ہوتا ہے کہ پڑھے لکھے ان کی نقل کرنے لگتے ہیں- نشست و برخاست، رہن و سہن، طرزِ گفتگو ،لباس اور پوشاک ہی نہیں، چلنے پھرنے کے طریقے اور تفریحات و مشاغل میں بھی ان کی تقلید ہوتی ہے-"[i]

د شلمې پېړۍ په سلګونو شخړو ،د یویشتمې پېړۍ نوې نوې مسئلو د پښتو ادب لمن ښۀ پراخه کړه.د عالمي ادب نوي رجحانات ،نوې نوې زاویې،جدید طرزاو اسلوب زمونږ د ادبي شفق په رنګونو کښې د ځان اغېزلو احساس ورکوي.مسائل کۀ قومي دي کۀ نړیوال،ملکي دي کۀ ریاستي،د کور کلي دي او کۀ علاقائي،تعلیمي دي کۀ تهذیبي،مسلکي دي کۀ مذهبي،ثقافتي دي کۀ تمدني،غرض کۀ هر څنګه مسئلې دي او د هر چا دي په پښتو ادب کښې عمومي او په پښتو طنز و مزاح کښې نۀ صرف د هغې ترجماني شوې ده بلکې په داسې ادبي حلاوت سره دغه مسائل رابرڅېره کړې شوې دي چې نۀ یواځې ادبي خوارۀ لري بلکې د هغې د حل بلها بهانې هم ښائي.د کومې په ذریعه چې مونږ د خپلې معاشرې اصلاح هم کولې شو او په دغه مسئلو قابو هم بیا موندے شو.دا یو منلې شوې حقیقت دے چې ځناورو له الله د خندا صلاحیت نۀ دے ورکړے خو هم دغه ځناور د انسان د خندا ذریعه ده. انسان یو سماجي او معاشرتي ځناور دے چا له چې قدرت د خندا قدرت ورکړے دے. خندا د انسان طبعي ضرورت دے.ژړا ډېره اسانه ده کۀ انسان ژړل نۀ هم غواړي نو د سماجي تودو سړو په لیدو په ژړا شي خو خندا ډېره مشکله ده .هن دا خبره

ده چې په معاشره کښې خندا خوشحالي د تهذيب د ارتقاء علامت دے.خندا د خوشحال او صحتمند سماج منظر وړاندې کوي.طنز و مزاح يواځې د خندا نوم نۀ دے بلکې د معاشرتي ژوند د بے شمېره تصوراتو يو ژور او رابښکونکے تصورهم وړاندې کوي.د انسان تهذيبي سفر په اصل کښې د خندا د ارتقا سفر دے.د يوې معاشرې د تهذيب د ارتقاء علامت هم دغه خندا ده.د ژړا نه زيات د خندا دپاره شعور ضروري وي ځکه چې د يو ښۀ طنز و مزاح نګار دا شعور وي چې په چا پسې وخاندي څومره وخاندي او څۀ وخت وخاندي نو د هغه مشکلات اسانېدې شي.خو دا کار دومره اسان نۀ دے څومره چې لګي ځکه چې دا د سماجي تصور متقاضي عمل دے.طنز په اصل کښې د رومانيت په ضد وي،رومانيت د تخيل په زور هرې ذرې نه نمر ،د هر کنډر نه تاج محل جوړوي.طنز هم داسې کار کوي د هرې سپوږمۍ د سوال رڼا ،د هر محل سورې،او د هر ديوتا د خاورو پښې په ګوته کوي.د طنز ابتدائي صورت هجو وي.د طنز و مزاح تر مېنځه ډېر ژور تعلق دے.طنز په زخم ورکولو اصلاح کوي.مزاح صرف تضادات،عجائبات،د قول و فعل تضاد، ظاهر او باطن کښې د راز پردې ته اشارې کوي او د سم او نا سم او لاندې باندې د سمولو لارې چارې ښائي.په مزاح کښې د طنز د رنګ شاملېدل ضروري نۀ وي خو ولې په طنز کښې ادبيت او ښکلا د مزاح په شوخۍ راځي.هجو د تورې په ځاے د دورې نه کار اخلي.د طنز د تورې نه زيات زورور د مزاح نشتر وي.او هم ددغې نشتر په سترګو کښې د غړېدو په وجه د ژوند حوصله او طريقه مونږ د ژوند دپاره هڅوي.هجو په اول کښې وي او بيا ورته د طنز درجه وروسته حاصلېږي خود مزاح حس يوه خاص پختګي يو مهذب اعلي ظرفه ذوق غواړي.په هجو کښې د مبالغې انتها وي. په طنز کښې مبالغه هم شوخه او خوندناکه پکار ده.مزاح کښې اکثر کنائې کارولې شي.په هره ادبي پنګه کښې د طنز و مزاح پنګه مهمه وي.په انګرېزۍ او فرانسيسۍ کښې د طنز و مزاح اعلي نمونې شته.پښتو ادب کښې هم د هجو ، طنز،ظرافت ،لفظي شوخۍ او مزاح ښۀ ښۀ نمونې په لاس راځي.

نثر په نولسمه پېړۍ کښې ښۀ ترقي وکړه او د متمدن انسان د افکارو ،اقدارو ،جذباتو او خيالاتو د اظهار لاره جوړه شوه.نو ځکه نن مونږ د نظم سره سم نثر کښې هم د طنز و مزاح بلها پنګه لرو.په شعر و ادب کښې مزاح يو ښائسته او زړۀ رابښکونکے صفت دےاو د دنيا په هر ادب کښې دا صفت شته.ځکه چې ددې فن نبغ په نبغه تعلق د انساني معاشرت او د هغه د مسئلو سره دے.د فرد اصلاح او د معاشرې کږکېچ سمول ددې مقصد دے.دا د پوخ شعوري ادراک،د ژوند د ژورې مشاهدې،بې پاياوه تجربې او د ذات د عرفان د غرقې مطالعې نه پيدا کېږي.نو ځکه پکښې د

ابتدا نه واخله تر ننه سماجي مسئلې او انساني اخلاقيات په کراتونو بيان شوې دي.خو بيا هم بعضې اهل علم دا په ادب عاليه کښې نۀ شماري.ددې وجه دا ده چې مزاح صرف دخان غولول نۀ دي بلکې پروفېسر محمود الهي ليکي:

"ایک ایسا اسلوب بیان ہے جس کی کیفیت تقسیم در تقسیم کا شکار ہو تی رہی ہے۔ یہی کیفیت کبھی تمسخر اور پھکڑ پن کا مظہر بن جاتی ہے اور کبھی طنز و تعریض کی غمازی کرتی ہے۔ انتخاب الفاظ میں اگر فن کار سے چوک ہو جائے تو طنز و دشنام طرازی کا مرقع بن جا تی ہے۔ طنز میں طبیعت کو بھی سنبھالنا پڑ تا ہے اور الفاظ کو بھی اور جسے طبیعت اور الفاظ کو قابو میں رکھنے کا سلیقہ آ تا ہے وہ ہی اچھا طنز نگار ثابت ہو تا ہے۔ جو لوگ مزاحیہ ادب کو ادب عالیہ میں شمار نہیں کرتے ان کی مراد مزاح کے ان نمونوں سے ہو تی ہے جن میں گفتار کا اسلوب عامیانہ ہو جاتا ہے۔"[ii]

په طنز و مزاح کښې تخليق کار د فن د پل صراط نه تېرېږي ځکه چې د هغه وړه کوتاهي د هغه د تخليق خوندهم ورانوي او د هغه شخصيت هم.اصل کښې طنز و مزاح نگار هغه گپي گڼلے شي چې د بادشاه په مخکښې هم دبادشاه کمزورۍ بيانولې شي.خو دغه ازادي ځومره خطرناکه وي هر څوک ئې اندازه لگولې شي.ځکه د طنز و مزاح په پوره روايت کښې داسې ډېر کم تخليق کار دي چې پښتو له ئې د ذکر وړ کار کړے.

ژوند لکه د بوډۍ ټال هر رنګ کښې زمونږ په انفرادي او اجتماعي نفسياتو لوے اثر غورځوي.مونږ انسانان په يوه ژوندۍ معاشره کښې ژوند کوو دلته ژوندي خلق د يو بل په ژوند په هر لحاظ اثر انداز کېږي.زمونږ ټولنيز ژوند د نورو قومونو نه ډېر مختلف دے .زمونږ سماجي ترون داسې دے چې د يو بل د اثر نه بچ نۀ شو پاتې کېدے.شاعر اديب هم ددې معاشرې يو داسې وګړے وي چې د نورو په نسبت ژوره مشاهده او تېز نظر لري.هغه هم د خپلې معاشرې د هر څۀ نه اثر اخلي او بيا ئې په خپل انداز د ردعمل په توګه د تخليق په شکل معاشرې ته وړاندې کوي.ډاکټر محمد اعظم اعظم هم ددې معاشرې يو داسې وګړے وو چا چې د خپلې معاشرې او چاپېرچل ژوره مشاهده لرله او هم يې د اظهار تجربه .اعظم کۀ يو خوا د شعر زبردسته ملکه لرله نو بل خوا يې د

نثر په میدان کښې هم خپل ځان منلے او ثابت کړے دے.په خصوصي توګه پښتو له ئې ډېر د اوچتې پائې صنف ډرامه ورکړي ده.د سنجیده لیک سره سم ډاکټر اعظم په طنز و مزاح کښې هم ډېر په کم عمر کښې د خپل قلم زور خودلے دے.د لشې د ډرامې د تنقیدي جاج نه وړاندې ضروري ګڼم چې د ډرامې په ارتقائي سفرهم عمومي بحث وکړو .

ډرامه یوه داسې قیصه وي چې د یو څو کردارونو په مدد په سټېج د نورو لوازماتو سره په عملي توګه وړاندې کېږي.ددې قیصې یو اځینے مقصد د غم د ولقې نه ویستل او د معاشرې اصلاح کول دي.خو د سنسکرت د قواعدو تر مخه ډرامه یو داسې نظم ته وئیلے شي چې کتلے شي یا هغه نظم چې کتلے او اورېدلے شي. [iii]

شاعري په اصل کښې د لوستې او اورېدو څیز دے او ډرامه د لوستې ،اورېدو او کتو دپاره وي.هم دغه وجه ده چې د ډرامې بنیادي ستنې حرکت او عمل دے.کله چې یو ادیب یا شاعر د ژوند یوه واقعه بیانوي نو هغه لکه د یو رهبر مونږ د ژوند په سېل اوباسي خو چې کله یو ډرامه نګار څۀ واقعه وړاندې کوي نو هغه صرف ژوند نۀ بیانوي بلکې ژوند پوره د خپل شان سره وړاندې کوي.یو داسې ژوند چې خاندي خوشحالېږي مست وي او یا ژړا انګولا ،فریاد او سترے ستومانه وي.دا خبره په ذهن کښې ساتل پکار دي چې په جدید ډرامه کښې ډرامه نګار د ناولسټ یا فکشنسټ په شان د ژوند مختلفو پټو اړخونو پټ حالاتو او واقعاتو له د حرکت او عمل جامې هم کوي.د څۀ په لار چې ډرامه نۀ صرف تفریح وړاندې کوي بلکې خلق ایجوکېټ کوي هم او د مخاطبو خلقو نقطۀ نظر کښې په بدلون راویستلو کښې هم خپل کردار ادا کوي.په ډرامه کښې د محبت،مزاح،طنز ،تفریح او اصلاح یو داسې امتزاج وي چې مونږ ته پکښې د ژوند ژوندي تصویرونه ښکاري.دا یو ټیم ورک وي.ددې په تخلیق کښې مصنف ،اداکار، کتونکي، سټېج او د سټېج نور لوازمات په یو وخت او یو ځاے شریک عمل وي.د ډاکټر قمر اعظم هاشمي د وینا تر مخه:

"ڈراما ایک ایسے فعل کا نام ہے جس میں کردار اداکار ہوتے ہیں۔ اور مکالماتی اسلوب میں حرکت و عمل، ادا اور بھاؤ کے ذریعے مختلف حالات و اثرات، تجربات و خیالات اور واردات و واقعات کو پیش کرتے ہیں اور اس ماحول میں گھرے ہوئے افراد کی ذہنی اور جذباتی کیفیتوں کو اپنے اوپر طاری کر کے اسٹیج یا رنگ منچ پر ظاہر کرتے ہیں۔ ایک اچھا ڈراما کئی پابندیوں کو پیش نظر رکھتا ہے۔ سب سے اہم پابندی وقت کی ہوتی ہے۔"[iv]

په اصل کښې ډرامه يوه داسې هینداره ده چې د معاشرې انځور پکښې په خپل اصلي حالت کښې ښکاري. ډرامه د افسانې او ناول نه هم ګران صنف دے.په ناول او افسانه کښې مصنف خپله خبره ښهٔ په خلاص مټ بیانوي خو ولې په په ډرامه کښې داسې نا ممکنه وي ځکه چې اختصار د ډرامې يو اهم خاصيت دے.

تر کومې چې د ډرامې د ابتدا خبره ده نو دا يو عام روايت دے چې د ډرامې تاريخ دومره زوړ دے څومره چې د انسان د خلقت دے.د اردو ادب نامتو اديب محمود نظامي د حضرت ادم علیه السلام د تخليق په موقع چې کومه واقعه پېښه شوې وه هغه د دنيا وړومبۍ ډرامه ګڼي .د مثال په توګه:

خدا: ہم زمین پر انسان کو اپنا خلیفہ بنا رہے ہیں۔

فرشتے: لیکن بار الہ یہ تو وہاں قتل و خونریزی کرے گا اور فساد پھیلائے گا۔ اس منصب کے مستحق تو ہم ہیں کہ تیری تسبیح کرتے ہیں۔

خدا: جو ہم جانتے ہیں وہ تم نہیں جانتے۔ سجدہ کرو اُس کی طرف۔۔۔

(تمام فرشتے سجدہ کرتے ہیں)

خدا: ہاں عزازیل تم نے سجدہ نہیں کیا۔

عزازیل: میں اسے سجدہ نہیں کروں گا کیونکہ یہ مٹی سے بنا اور میری خلقت آگ سے ہے جو مٹی سے افضل ہے۔

خدا: ہم تمہیں اس نافرمانی پر راندہ درگاہ قرار دیتے ہیں۔ نکل جاؤ۔ یہاں سے۔[v]

د محمود نظامي هم د دغه نقطهٔ نظر په بنیاد ډاکټر رشید احمد ګورېجه د ډرامې د ابتدا په حواله تبصره کړي وائي:

*"یہی ہے بزمِ ہستی کا وہ پہلا ڈراما جو محفلِ قدس میں انسان کی تخلیق کے موقع پر کھیلا گیا تھا"*[vi]

خو ګورېجه نه دا هېر دي چې ډرامه او حقیقت کښې فرق وي.تر کومې چې زما د ناقص رائې تعلق دے نو د قرآن مجید واقعاتو له د ډرامې تشبیهه ورکول ښهٔ خبره نهٔ ده.ځکه چې د قرآن مجید واقعات په حقیقت اډانه دي او ډرامه د حقیقت انځور دے.بلکې دا د حقیقت نه درې چنده لرې څیز دے.ډرامه خو یو نقل دے بلکې دا خو د نقل هم نقل دے او په دې کښې انساني اعمال او افعال پېش کولې کېږي.په دې حواله د دنیا د عظیم فلاسفر افلاطون یو اقتباس چې احمد عقیل روبي په خپل مشهور کتاب "یونان کا ادبي ورثه" کښې بیان کړې دے.

*"فرض کیجیے ایک بڑھئی ایک پلنگ بناتا ہے۔ اصل میں اس نے اُس تصور کی نقل کی ہے۔ جو اس کے ذہن میں ہے لیکن یہ تصور اس کے ذہن میں خالقِ باری نے پیدا کیا ہے۔ چناچہ پلنگ کا خالق بڑھئی نہیں بلکہ خالقِ باری ہے۔ بڑھئی نے تو اپنے تصور کی تصویر اتاری ہے۔ بڑھئی کی کوشش حقیقت سے تین منزلیں دور ہے اور حقیقت سے اس کا کوئی تعلق نہیں۔"*[vii]

دا خبره په ذهن کښې ساتل پکار دي چې ډرامه د ښېا هنرونو نه یو اهم رکن دے.د افلاطون په نزد فنون لطیفه د تقل هم نقل دے.[viii]

د نقل موضوع انساني افعال او اعمال دي.کوم چې د انسان دننه پټ ښهٔ والي او بدوالي نه جوړېږي.مونږ له پکار دي چې مونږ انسانان چې څنګه دي هم هغسې وښایو یا یې سم ښهٔ او یا یې سم بد او یا دا چې څنګه دے هغسې یې وښایو.اصل کښې نقل کول او د هغې نه حظ پورته کول دواړهٔ فطري دي او د ډرامې په تخلیق کښې پوره لاس لري. ډرامه د تېرو اعمالو او افعالو په دویم ځل دېښنو کولو عمل دے.دا د ماضي نه د حال جوړولو عمل

دے.دا د حال د بې حاله کولو عمل دے.ځکه په ډرامه کښې بعضې وخت غېر حقيقي يا نيم حقيقي واقعاتو د شامليدو انديښنه وي خو دومره ده چې په ډرامه کښې تقل د اصل مطابق د پېش کولو هڅه کېږي.د ډرامې قيصه چې حقيقت ته څومره نزدے وي هغه هومره ډرامه ښۀ تصور کېږي.ډاکټر محمد اسلم قريشي وائي:

"اس کرۂ ارض پر سب سے پہلے حضرت آدمؑ کے دو بیٹوں ہابیل اور قابیل کے درمیان نزاع پیدا ہوئی اور اس کے نتیجہ میں قتل وخون کا اولین واقعہ رونما ہوا۔ ہابیل اور قابیل کی لڑائی اس سرزمین کا پہلا المیہ ہے۔"[ix]

ددې واقعې نه د الميې څو داسې خصوصيات وضع شو کوم چې په راتلونکي کښې د الميې د فن دپاره لازم وګرځېدل:

1. المیہ میں آخری تباہی کا شکار کوئی نہ کوئی عظیم شخص ہوتا ہے.
2. المیہ کی بنیاد کسی نہ کسی نوع کی آویزش، ظاہری و باطنی نزاع اور تصادم پر استوار ہوتی ہے.
3. المیہ کے ناخوشگوار واقعہ کو کسی شخصی یا ذاتی کمزوری کا نتیجہ قرار دیا جاتا ہے.
4. اس ناخوشگوار عمل میں انسانی لاعلمی اور بے تدبیری کو دخل حاصل ہوتا ہے.
5. اس عمل کا انجام ندامت اور خجالت پر ہوتا ہے جس سے دہشت، ہمدردی، دردمندی اور رحم کے جذبات ابھرتے ہیں.[x]

کۀ چرې مونږ د ډرامې د اصل روح په حقله د کره کتنې هڅه وکړو نو په حقيقت کښې دا د مرګه نه پس شروع کېږي.دا صرف الميه وي چې پکښې ويره ترهه او د درد و غم رنګ ضروري وي.دا د تېر وخت او حالاتو نقل وي.دا واحد آرټ دے چې انساني ژوند پکښې په سټېج د تماش بينو وړاندې په عملي توګه پېش کېږي.ددې نه دا واضحه کېږي چې ډرامه د فطرت يا انساني ژوند د اعمالو او افعالو تقل او پېښې دي .يو ښۀ ډرامه نګار په معاشره کښې د واقعاتو د پنډ نه صرف هغه واقعه اخلي چې د هغې په بيان کښې حسن او حقيقت

پیدا کېدې شي.هغه په خپله تجربه او شعور دمنتخب کړي اعمالو مختلف اجزاء په داسې مربوط او مضبوط انداز پېش کوي چې مونږ ته پکښې د حقیقي او فطري ژوند یو ښکلې تصویر ښکاري.د اردو ډرامې نقاد رحمان مذنب د خپل کتاب ډرامه اور تهېټر په پېش لفظ کښې لیکي:

"دنیا ایک اکھاڑا ہے.....قدیم ترین اکھاڑا جس میں نیک سے نیک، بد سے بد یا نیک و بد لڑتے، داؤ پیچ لگاتے، گرتے پڑتے، مرتے ہیں۔ ان کی باہمی کشمکش، جدوجہد، آزمائش، سب کچھ عین فطرت ہے، حقیقت ہے۔ دنیا کا اکھاڑا سدا سے گرم ہے، یونہی گرم رہے گا۔ یہی اکھاڑا فنکار کی وساطت سے تھیٹر کی چار دیواری میں منتقل ہو جاتا ہے۔ ڈرامہ نگار آدمی کے فکر و عمل، اس کی خوبیاں، خرابیاں، سرگرمیاں، سرمستیاں، لغزشیں، اچھل کود سبھی کو سمیٹ لیتا ہے، پھر اپنی سوچ، نظریے، رجحانات، جذبات اور احساسات کی آمیزش سے ڈرامہ بنا دیتا اور اسٹیج پر لے آتا ہے۔"[xi]

یو روایت دا هم دے چې د ادم علیه السلام د تخلیق سره د خبرو اترو عمل شروع شوې دے د ژوند د ضرورتونو غوښتنه محسوس کړې شوې ده.خاندان او معاشره په وجود کښې راغلي دي.ددې سره سم د سماجي ژوند ابتدا شوې ده.چې کله سماج جوړ شو نو ورسره سماجي مسئلې هم پیدا شوې.سماجي ژوند هم د تذبذب ښکار شو.انسان د سماجي ژوند د مسئلو د حل کولو او ژوند د اسانولو په خاطر هڅې شروع کړې.دغسې د ژوندد غم او ښادۍ یو عمل شروع شواو هم ددغې غم او ښادۍ د اظهار دپاره خبرې اترې په ډرامائي انداز کښې د وړاندې کولو هڅه هم وشوه.هم ددغه ځاے نه د نقل ابتدا وشوه.خو د نقل دغه جذبه په هر کس کښې فطري ده د کومې اظهار چې هغه وخت په وخت کوي.لکه واړۀ د لویو نقل او پېښې کوي د دغې نقل اثر په چاپېرچل کښې په وړو ډېر ژور اثر کوي. ددې په وجه د وړو د شخصیت تعمیر او خصمانه کېږي.هغوي په نقل او پېښو د خپل دننه فطري جذبې د تسکین هڅه کوي.وروستو ددې نقل جذبې د نظم او نثر شکل اختیار کړواو هم ددغې نظم او نثر د وجود نه ډرامه پیدا شوه.خو دلته سوال دا پیدا کېږي چې ډرامه د څۀ مقاصدو د تکمیل دپاره

تخلیق کړې شوه؟ ددې مختصر جواب خو دادې چې ډرامه د انساني ژوند د مختلفو تفکراتو او پرېشانو د دارو درملو دپاره تخلیق کړې شوه.لکه څنګه چې وړاندې ذکر وشو چې د انسان د تخلیق سره چې کومې سماجي ،معاشي ،معاشرتي مسئلې پیدا شوې نو ددې د حل دپاره هم هلې ځلې شروع شوې ددغې هلو ځلو سره سم انسان د درد او غم تفکراتو په خپله ولقه کښې واخستو .د ساه ډوبې په دغه پیکه او بې خونده ماحول کښې کوم چې د مسئلو د حل په خاطر د هلو ځلو په نتیجه کښې پیدا شوې وو ،انسان د زړۀ او ذهن د دمې او خپل خیال بدلولو دپاره د تفریح ضرورت محسوس کړو او هم د دغې ضرورت د تکمیل په نتیجه کښې ډرامه پیدا شوه.ډرامه اول د تفریح یوه ذریعه وه او بیا رو رو پکښې د ژوند نور رنګونه ورګډ کړې شواو د وخت تېرېدو سره ډرامه د لا ښۀ کېدو په مزل روانه ده.په موجوده وخت کښې ډرامه د انساني معاشرې سره تړلې مسئلې،معاش،سماج،سیاست او نور ګڼ اړخونه د کردارونو په لار په ښکلې مکالمو کښې کتونکو ته ښائي.په دغه قیصه کښې کۀ یو خوا معاشرتي مسئلې وي نو بل خوا پکښې د هغې دپاره حل هم موجود وي.د تفریح او اصلاح په رنګ رنګ شوې ډرامه نۀ یواځې د معاشرې عکاسي کوي بلکې د یو ښۀ بدلون محرکه هم ده.د رحمان مذنب د وینا تر مخه:

> "غار کے اندر یا باہر رات کے اندھیرے میں آگ سلگا کر یا دن کی روشنی میں فنکار شعر سناتا، سروں کی شیرازہ بندی کرتا، ناچتا یا پھر اپنی زندگی کا کوئی واقعہ، حادثہ ڈرامائی شکل میں پیش کرتا۔ پتھر کا سینہ اسٹیج ہوتا، قبیلے کے لوگ تماشائی ہوتے۔"[xii]

دا خبره ټیک ده چې ډرامه د انسان سره پیدا شوې ده او د ډرامې تاریخ هغه هومره زوړ دے څومره چې د انسان تاریخ دے خو په لیکلې شکل کښې ډرامه ډېره وروستو راغلې ده.په تېر وختونو کښې د لیک رواج نۀ وو نو دا هم امکان نۀ لري چې څوک دا دعوه وکړي چې اول ډرامه چا او کله او کوم ځاے لیکلې ده.د نورو ادبي اصنافو په شان د ډرامې په حقله هم په قیاساتو اکتفا کولې شي.ډاکټر رشید احمد ګوریجه هم د ډاکټر محمد سلیم په سبر وائي:

"کرہ ارض پر ہابیل و قابیل کا سانحہ انسانی زندگی کا پہلا المیہ ہے۔ پھر یہ اسٹیج وسیع ہوتی گئی اور انسان نے قدم قدم پر زندگی کو ڈراما بنا دیا۔"[xiii]

دغه قیاسونه په خپل ځاے ټیک دي خو په لیکلي بڼه د مصر ډرامې د دنیا زړې ډرامې منلې کېږي کومې چې کم و بېش څلور نیم زره کاله قبل مسیح کښې لیکلې شوې دي.د ابن جنیف د تحقیق تر مخه د مصر د ټولو نه زړه ډرامه "من نوفر" ده[xiv]

دا ډرامه کم و بېش څلور نیم زره کاله قبل مشیح لیکلې شوې ده.بله ډرامه د تاچپوشۍ ډرامه ده کومه چې د مصر په خاوره تخلیق شوې وړومبۍ په قلم او سهۍ لیکلي ډرامه بللې شي. په لیکلي بڼه کښې دا د دنیا د ټولو نه وړومبۍ ډرامه کڼلې کېږي.[xv]
خو په تاریخي لحاظ یونان په نړۍ کښې د ډرامې لوے مرکز وو او تهس پس ته د دنیا وړومبې ډرامه نګار وئیلے شي.تهس پس ته فادر اف ټرېجډي وئیلے شي.[xvi]

ددۀ نه پس ایسکي لس ،سوفوکلېز،او یوري پېډیز ډرامه د عروج اسمان ته وخېژوله.او د دنیا د بهترین المیه نګارانو نامه یې وګڼله[xvii]

دا خبره ذهن کښې ساتل پکار دي چې اول به ډرامې د مذهبي نوعیت وې ځکه نو داوینا به مناسبه وي چې د زړې ډرامې خصمانه د مذهب په سېوري شوې ده او د مذهب د تبلیغ کار ترې اخستې شوې دے.رورو پکښې د ژوند د نورو اړخونو ترجماني هم شروع شوه او د یوې ادارې په توګه د ادب یوه مضبوطه او مؤثره ابلاغي ذریعه وګرځېده.د مصر نه تر پښتو ډرامه د مختلفو پړاوونو نه راتېره شوې ده.د اعظم پورې چې رارسېدلې ده نو په یو نوي انداز او رنګ یې د خپلې معاشرې ترجماني کړې ده.

لشې د ډاکټر اعظم د طنز و مزاح یوه نادره نمونه ده.لشې کښې د فهرست مطابق شپږ ډرامګۍ او اووۀ تکلونه دي.د لشې ډرامګۍ د فن په لحاظ کۀ هر څو یو مخېزې دي خو ولې بیا

هم د ډرامې په تول پوره دي.د فکر په لحاظ د اعظم د لشي هره ډرامګۍ د خپلې معاشرې او معاشرتي ژوند ډېره ښۀ عکاسي کوي .په خندا خندا او ګپ ګپ کښې ئې د پښتون معاشرتي او سماجي ژوند ډېر په استاکارۍ د ښۀ کردارنګارۍ او مکالمو په لار يو روڼ تصوير جوړ کړے دے.پښتون ته ئې ډېره په نرمه او خوږه پسته او ټوقو ټوقو کښې د ژوند آئينه خودلې ده.عبدالقادر ليکي:

"په دې مجموعه (لشي) کښې د ژوند په مختلفو اړخونو ډرامګۍ او مضمونونه شامل دي او فنکار په خندا خندا کښې د اولس د ژوند په شعبو کښې ترخې خبرې کړې دي چې اورېدونکي يا لوستونکي پرې په هغه وخت اوخاندي ولې چې حقيقت ته ئې اوګوري نو هغه د اولس د يو غټ مرض دپاره يوه ډېره فائده منده نسخه وي." xviii

اعظم د پښتنې معاشرې يو داسې وګړے وو چې په ډېر زلميتوب کښې ئې د شعر سره سره د طنز و مزاح په ميدان کښې هم د خپل فکر نيلي زغلولي دي .د خپل تېز او کره نظر په برکت ئې د خپلې معاشرې هغه بدرنګي د خپل فن په ګوتو داسې په ښائسته انداز وړاندې کړې ده چې د فن په تنه بوده کښې ئې د يو لوے او عظيم مزاح نګار ځير محسوسېږي.عبدالقادر ليکي:

"زما د شاګردۍ په دائره کښې د راننوتو نه اګاهو ما دے يو شاعر ګڼۀ او دومره قدرې راته معلومه وه چې دے ډېر ښۀ شعر کوي.او په کلام کښې ئې يو خاص جدت دے...ددې غلي غلي او کم ګويه زلمي په ساخت کښې د مزاح ،ټوقو وشتو او طنز يوه غټه ذخيره پرته ده." xix

د لشي په تن کښې ددغه رنګونو د ښېړنې نه به دا خبره نوره هم جوته شي چې په کوم انداز او کومه فنکارۍ اعظم په ډېر زلميتوب کښې د خپل قلم جادو په مونږ کړے دے.د لشي وړومبۍ ډرامګۍ مسته نيستي ده دا ډرامګۍ په څلورو کردارونو اډانه ده.ختو ،کمين،ملاصېب او د ملا صېب ځوے د يو کلي هغه وګړي دي کوم چې د وخت په درياب کښې د خپل قسمت چپو وهلي دي.او د خپل ماضي د حسينو لمحو په ياد د نن په جولۍ کښې د سبا ارمانونو داسې زېلي دي چې د پولۍ ټق ته ناست دي.خو ولې بيا هم د خپلې نيستۍ د مستۍ په ميو مست دي او خپل ځان

له ناکامه تسلي ورکوي.د ماضي یاد او د حقائقو نه د چشم پوشۍ دغه عکاسي اعظم په ډېر ښکلي انداز کړې ده.د دغه ډرامګۍ کردار نګارۍ نه تر مکالمو او بیا د موضوع سره سم د پلاټ چستي لوستونکي د خپل تاثر د جادو په غېږ کښې داسې واخلي چې بې اختیاره د لوستونکي په شونډو د خندا سره سم د دغه کردارونو سره همدردي هم پیدا شي.ځکه چې دغه کردارونه نۀ یواځې د خپلې نیستۍ په غلبیل چڼېږي بلکې د خپلې خاورې د نوي نسل د تعلیم سره خپل اقدار او روایات هېرول ورته هم ډېر زور ورکوي.لکه دا مکالمه چې خټو له کمین جواب ورکوي.

" کمین: دا خبره نۀ ده خټو!سکولونه ئې اووئیل انګرېزان شول.پښتو ئې پرېښوه هغه د پښتنو خویونه ترې اووتل سړیه پلارانو به ئې په ځان پسې لړی لړی ټوپکې ګرځولې .چا به ورته پورته کتے نۀ شو.راغلل پرې دوي.په ایمان چې ځوک ئې په سپو سړو کښې هم نۀ اچوي...مونږ خو وارۀ وو خو ښۀ مې یاد شي چې حجره کښې به ناست وو."[xx]

ډاکټراعظم په مسته نېستۍ کښې د ماضي په ښۀ وخت د ویاړ او حال د بدحالۍ منظر هم ډېر په استکارۍ وړاندې کوي او دا خبره په ډاګه کوي چې د نن دپاره به نن محنت کول وي هسې د پولۍ ټق ته ناسته باندې ژوند نۀ کېږي.

د مسته نیستي نه علاوه د لشې په وجود کښې د دامتحان په نوم یوه بله ډرامګۍ هم ده چې پکښې د کالج د هلکانو د ژوند د یو تریخ حقیقت نه پرده پورته کړې شوې ده.د لالا په شان ډېر داسې لالاګان په مختلفو کالجونو او پوهنتونو کښې پراته دي او د ځان سره سره د نورو زده کوونکو وخت هم ضائع کوي لکه د دې ډرامګۍ د ملنګ جان چې ډیټېن شوے دے او پلار ساده ته دوکه ورکوي.بل خوا طائر دے چې خپل محنت کوي او وخت نۀ ضائع کوي او د سبق سره مینه لري.لکه په یو ځاے کښې د لالا په جواب کښې وائي:

"لالا مونږ مور پلار دلته څۀ له رالېږلي یو ؟ مونږ به خپل کتابونه ګورو او تۀ ګوره دا فلمي البمونه." [xxi]

اعظم د کالج د زده کوونکو د هاسټل د حالاتو او ژوند خاکه ډېر په هنر وړاندې کړې ده . د وخت ضائع کول په د سبق نهٔ زده کول او امتحان ته په وخت د تياري نهٔ کولو چې کوم نقصانونه دي هغه ټول ئې ډېر په ښهٔ انداز په ټوقو ټوقو کښې بيان کړي دي.او لويه خبره پکښې دا هم ده چې مور پلار ته ئې هم تلقين کړے چې د خپلو بچو نه مهٔ بې غوره کېږئ.

زمونږ معاشره کښې د تعليم او پوهې د نيشت والي يا کمي په وجه ډېر خلق اوس هم په جديد علومو او سائنسي ترقۍ يقين نهٔ لري ځکه چې هغوي لا تر اوسه د خپل زوړ دور په هغه زړو لارو چارو ايمان لري.علاج ډرامګۍ هم د اعظم په دغه موضوع ده چې يو پلار د خپل بچي علاج د ايم بي بي ايس په ځاے د کلي په حکيم کوي او د هغه د ژوند دروازې په هغه د هميشه دپاره بندوي.لکه د خان دا خبره چې:

"اودرېږه ډانکټران په څهٔ کښې دي.ټول به دې ستنې ستنې کړي.طبيب صېب له دې بوځم .يوناني علاج به درله اوکړي.په يو دم کښې به دې سم دم کړي." xxi i

اعظم په علاج ډرامګۍ کښې هم دغه خبره کړې ده چې د زړو حکيمانو په ځاے د نن جديد علاج پکار دے او د نن د ترقۍ نه پوره پوره فائده پورته کول زمونږ د ژوند د بقا ضمانت دے.

د لشې تر ټولو غوره ډرامګۍ حمارستان ده.حمارستان کښې د ملک د سياست او سياستدانانو منظر نګاري او بيا په هغوي چې په کومه طريقه طنز کړے دے د لوست سره تعلق لري.د حمارستان چې کومه نقشه راښکلي شوې ده هغه په نن دور کښې هم هغسې دي او بيا د حمار علامت هم داسې دے چې په نن دور کښې هم دغه علامت په کارولے کېدې شي.د خپل ذاتي مفاداتو او خپلو ذاتي عياشو کښې مست د حمارستان کابينه د بې حسۍ او خودغرضۍ هغه علامتونه دي چې د عام اولس په وګړيو هيڅ کار نهٔ لري او د هغوي درد درد نهٔ ګڼي.نن هم دغه حال دے بس د حمارستان د کابينې وګړي بدل دي.اعظم پرې په ډېر ښکلي انداز د طنز نشتر چلولے.او کومه ترانه چې ئې ليکلي ده په هغې کښې ئې د ټولو حمارانو تصوير راښکلے دے او هم هغه ترانه کښې ډېر حقائق رابرښېره کړے شوي دي.

عقل له مو لتي دي ورکړي احمقان يو

ډنډه لکۍ ګرځو بې خبره له خفګان يو

مونږه حماران يو مونږه حماران يو [xxiii]

او چې بيا حمار عظيم د شيطان زمان نه د وطن په حقله تپوس کوي او د اولس پښتنه کوي نو شېطان زمان ورته په ځواب کښې وائي:

"شهنشاه عالمه! ښۀ په مزه خوب کوي.بې غمه اوسئ بې غمه.ټول مې بې غمه کړي دي." [xxiv]

او چې بيا ورته نور تفصيل بيانوي نو لکه چې د نن تصوير ورته وړاندې کوي وائي:

"تاسو چې کوم وخت په وړمبي ځل د حمارستان په تخت سوربېدئ نو په ملک کښې تباهي وه،بربادي وه،هر اړخ ته د ولوږې او بربنډې ورځې دور دوره وه.خو ستاسو په دعا سره مې هغه کارونه اوکړل چې اوس په حمارستان ولوږه او بربنډه څۀ کوې د سره د اوږې او بربنډ درک نۀ لګي. نۀ اوږے شته او نۀ بربنډ .ها...ها...ها [xxv]

حمارستان کښې د هر کردار سره پوره انصاف کړے شوے دے .مکالمې ئې چستې او اثرناکې دي.د هر کردار مکالمه د هغه د کردار سره سمون خوري .پلاټ ئې چست او موضوع ئې سدا بهار ده.ځکه چې مونږ پکښې د نن دور د حمارانو د کردار او خپل وطن سره د سياست په نوم روانه ناروا لوبه په شدت سره محسوسوو.

کرکټ په څۀ وخت کښې لوے واړۀ د کاره ويستلي وو .اعظم په لشې کښې دغه وبائي رنځ ته کرکټيريا وئيلي دي او ډېر زبردست نوم ئې ورکړے دے ځکه چې د کرکټ رنځ نن هم ډېر خلق رنځوران کړي دي او د دنيا د کار روزګاره ئې ويستلي دي.د وخت ضائع کولو او وچ په وچه ځان په اور کښې نيول او بيا د ګټې او تاوان د فيصلې په طمع بې نتيجې د مېچ ختمېدل د ډرامګۍ يو کردار شېخ ماما د ژوند نه مرورېدل داسې الميه ده چې اعظم په لشې کښې ډېر په ماهرانه انداز د طنز او مزاح په خوږو کښې نغښتلي مونږ ته وړاندې کړي ده.په مونږ کښې داسې ډېر شيخ ماما

ګان اوس هم ژوند کوي چې د ژوند د مقصد او مرام نه بې خبره د کوټې په ګوټ کښې ناست وي د ژوند قیمتي وخت ضائع کوي.مامي چې ګلنډي ته د شېخ ماما خبره کوي او کوم منظر دے اعظم ئې ډېره زبردسته عکاسي کړې ده.

"مامي: زما بچیه ! څۀ اووايو کۀ غړ کوم نو کپر ته پرې اوځم.نېغه مې د پلار کره شړې.غړ چاته مۀ کوه.په ماما دې څو ورځې اوشوې څۀ چل پرې شوے دے.پیریان پرې ناست دي." [xxvi]

هم دغه د کرکټ پیریان چې په چا هم ناست دي نو د ژوند د زغل نه پاتي دے.د لوبو د اهمیت نه انکار نشته خو لوبه هغه چې یو کس پکښې پخپله شریک وي او کوي ئې.کرکیټېریا کښې هم دغه نقطه راڅېره کړے شوې ده.

معاشره کښې قسما قسم خلق وي د هر چا د بل په ژوند ډېر ښکاره اثر وي اوبیا دوستان خو د یو بل د کردار نمونې وي .دوست په دوست پېژندلے شي دا خو ده مشهوره خو وادۀ کښې چې د کومو دوستانو ذکر کړے شوے دے او کوم کردارونه دي نو هغه د لستونې ماران دي ځکه چې په ظاهره خو د دوستۍ دعوې کوي خو اصل کښې هغوي د خپل ساده او مخلص ملګري په مال د عیاشۍ په تکل وي هر وخت او هر ځاے د خوشامد او چاپلوسۍ په خوږو زهرو خپل ملګرے دوکه کوي.ددې ډرامګۍ کردار بخت بلند سره چې تورے او شېرے کومه لوبه کوي نو هغه د چا خبره دښمن هم د چا سره نۀ کوي.د خپل ذاتي مفاد او ځان ساتلو په غرض هغوي بخت بلند په یوه داسې ښځه اړوي چې ډېره بد رنګه او بې خونده وي .دغسې د ملګري نوے ژوند د شروع کېدو سره سم ختم شي.دوه زندګۍ بربادي کړي.اعظم په ټوقو ټوقو کښې ددې راز نه د پردې پورته کولو کامیابه هڅه کړې ده چې د دوست په انتخاب کښې ډېر احتیاط پکار وي.

غرض دا چې ډرامه او طنز و مزاح د یو بل سره ډېر کوټلے تړون لري او په خپل وجود کښې يې د خپلې معاشرې رنګونه جوت ساتلي دي.اعظم هم د دغې صنف نه ښۀ فائده اخستې ده او ځان له ئې یو اوچت مقام ګټلے دے.

# حوالي

---

[i] مقاله، اردو ادب تہذیبی قدریں، ماضی حال اور مستقبل، یو ورځنے کانفرنس، اردو څانګه ګري راج ګورنمنټ کالج نظام اباد، تلنګانه، ۲۰ ستمبر۲۰۱۴ء

[ii] پروفیسر محمود الهي پیش لفظ انتخاب مضامین فکر تونسوی، اردو اکادمی، لکھنؤ، ص ز

[iii] محمد شاہد حسین، ڈاکٹر، ڈراما فن اور روایت، ایجوکیشنل پبلشنگ ہاؤس، دہلی (بھارت)، ۲۰۰۶ء، ص ۱۳

[iv] ہاشمی، قمر اعظم، ڈاکٹر، اُردو ڈراما نگاری (تاریخ و تنقید کی روشنی میں)، تیسرا ایڈیشن مع اضافہ، کتابستان، چندوارہ، مظفر پور، بہار (بھارت)، ۲۰۰۲ء، ص ۳۲

[v] محمود نظامی، بحوالہ: اُردو ڈرامے کی تاریخ (واجد علی شاہ سے مرزا ادیب تک)، ڈاکٹر رشید احمد گوریجہ، بیکن بکس، ملتان، ۲۰۰۲ء، ص ۳۰۳

[vi] گوریجہ، رشید احمد، ڈاکٹر، اُردو ڈرامے کی تاریخ (واجد علی شاہ سے مرزا ادیب تک)، بیکن بکس، ملتان، ۲۰۰۲ء، ص ۳۰۳

[vii] افلاطون، بحوالہ: یونان کا ادبی ورثہ، احمد عقیل روبی، وجدان پبلی کیشنز، لاہور، اشاعت دوم، ۲۰۰۸ء، ص ۲۶۷

[viii] هم دغه، ص ۲۶۷

[ix] قریشی، محمد اسلم، ڈاکٹر، ڈرامے کا تاریخی و تنقیدی پس منظر، مجلسِ ترقیِ ادب، لاہور، طبع اوّل، ۱۹۷۱ء، ص ۱۲

[x] هم دغه، ص ۱۲

[xi] رحمان مذنب، ڈرامہ اور تھیئٹر (عالمی تاریخ)، رحمان مذنب ادبی ٹرسٹ، لاہور، س۔ن، ص ۱۳، ۱۴

[xii] هم دغه، ص ۱۱، ۱۲

[xiii] گوریجہ، رشید احمد، ڈاکٹر، اُردو ڈرامے کی تاریخ (واجد علی شاہ سے مرزا ادیب تک)، بیکن بکس، ملتان، ۲۰۰۲ء، ص ۳۰۳

[xiv] ابنِ حنیف، بھولی بسری کہانیاں (یونان)، بیکن بکس، ملتان، ۱۹۹۶ء، ص ۴۳۴

[xv] هم دغه ، ص ۱۰۴

[xvi] هم دغه ص۴۲۰

[xvii] هم دغه ، ص۴۳۱

[xviii] اعظم،محمد اعظم،لشې،یونیورسټي پبلیشرز،پېښور،طبع څلورم، ۲۰۱۰ء،ص ۱۰
[xix] هم دغه ،ص ۷
[xx] هم دغه ،ص۲۴
[xxi] هم دغه،ص ۳۳
[xxii] هم دغه، ص ۵۸
[xxiii] هم دغه،ص ۷۲
[xxiv] هم دغه، ص ۷۹
[xxv] هم دغه ،ص ۷۹
[xxvi] هم دغه،ص ۹۵